سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۸/۱۲

# د مینـي فلســـفـه

د اوبو چیــني دریاب ته غاړیوځی دریابــونه غاړیوځـــی ســمندرته
د جنـت بـادونه هـم ورکوی غیبره د دی ځمکی په مخ سمی ته اوغر ته
غـرونه غـاړي ښـکلوی د اسمـانونو
ځـپــي شـونـدېِ لګوی په سـاحلونو

** * **

د ګل ځانګو غوټـی نه دی د بخښلو چی په کمه سترګه وګوری ګل وروړته
ګلان ورونـه هم قابل د عفوی نه دی که په کم نظر قایل شی غوټی خور ته
ورور او خور که مهربانه یو په بل وی
د ژوندون خوښـی به هم ورسره تل وی

** * **

د لمر وړانګو ده نیولی ځمکه غیږ کی د سپوږمی شعلی خوری دی په بحرونو
الله (ج) هیڅ شی ځانته نه دی پیدا کړی بـوراګان دی چی تاویږی له ګلـونو
دا دمیـنـی فلـسفه د مینی زور دی
چی جهان راته جوړ شوی کور اوګور دی
** * **



ارسال مقالات:info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

خو که ته غیږه را نکړی، ښکل می نکړی     ده ، د مینی فلسفه ټوله بیکاره

زه وتلی یم له هرهغه قانون، نه     چی قانون کی نه وی مینه زما دپاره

پام یاغي دی کلیوال نکړی صنمه!

لری یی و ساته له اور د جهنمه

اگست/۲/۲۰۱۸

تورنتو ـ کاناډا